BØRN OG UNGE
Aarhus Kommune



# لوست

- څنګه له خپل ماشوم سره لوست کولای شو

# لوست - څنګه له خپل ماشوم سره لوست کولای شو

### له لوست څخه وړاندې

که چېرته مخکې له لوستلو څخه د کتاب په اړه خبرې کوئ، تاسو له ماشوم سره د متن په پوهاوي کې مرسته کوئ.

د بېلګې په توګه، تاسو کولی شئ:

- د کتاب نوم، د لیکوونکي نوم او انځورونکي نوم ولولئ.
- د کتاب په پوښ باندې د انځورونو په اړه خبرې وکړئ.
- دا چې کتاب د څه په اړه دی خبرې وکړئ.
- د کتاب د شاتنۍ پوښ باندې انځور وګورئ.
- د کتاب یا څپرکي د عنوانونو لیست کتنه وکړئ.
- کتاب باندې سرسري تېر شئ او د انځورونو په اړه خبرې وکړئ.




### له لوست څخه وروسته

که چېرته تاسو د کتاب لوستلو وروسته د کتاب په اړه خبرې وکړئ، تاسو له خپل ماشوم سره د متن په پوهاوي کې مرسته کوئ.

د بېلګې په توګه، تاسو کولی شئ:

- دا چې کتاب په څه اړه دی خبرې وکړئ
- د کتاب انځورونو ته وګورئ او د انځورونو په اساس د محتوا په اړه خبرې وکړئ
- په ورځني ژوند کې او یا په کتاب کې د ماشوم له لوري پېژندل شوو شیانو په اړه خبرې وکړئ
- دا چې ستاسو د ماشوم په فکر په کتاب کې تر ټولو په زړه پورې او حیرانوونکې شی څه دی خبرې وکړئ
- د نوو کلماتو په اړه خبرې وکړئ او په کتاب کې لیکل شوي کلمات په نورو ډېرو محیطونو کې وکاروئ

دا چې کلمات او حروف څه ډول ښکاري په اړه له خپل ماشوم سره د خبرو کولو پر مهال هم له خپل ماشوم سره مرسته کوئ.




### د لوست پر مهال

که چېرته تاسو د کتاب لوستلو پر مهال د کتاب په اړه خبرې کوئ، له خپل ماشوم سره د متن په پوهاوي کې مرسته کوئ.

د بېلګې په توګه، تاسو کولی شئ:

- د کلماتو او عبارتونو د مانا په اړه خبرې وکړئ.
- دا چې په انځور کې څه وینئ خبرې وکړئ.
- انځورونو او متنونو ته اشاره وکړئ.
- په یو وخت کې یو پرګراف ولولئ او دا چې د څه په اړه دی خبرې وکړئ.
- دا چې ستاسو په فکر راتلونکی پرګراف د څه په اړه دی خبرې وکړئ. د نوي پرګراف سرلیک/عنوان او یا انځورونه ستاسو له ماشوم سره په فکر او خبرو کولو کې مرسته کولی شي.

